# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د وري اتمه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۸مه | ۶۹۹یمه گڼه


# د ترکیې د کنفرانس په درشل کې؛
## د طالبانو او امریکا ترمنځ د سرتېرو پر حضور یا وتلو نانډرۍ راولاړې شوې


۳

### د کورنۍ جګړې خطر رښتیا هم جدي دی؟
۲ مخ


### اوبه خوندي کړئ چې ژوند مو خوندي شي
۲ مخ

### د افغاني تولیداتو پر وړاندې خنډونه او فرصتونه
۳ مخ

## امریکایي استخبارات: که امریکایي پوځیان له وخت مخکې ووځي، طالبان به په زور واک ترلاسه کړي

د امریکا استخباراتي ادارو د جو بایډن اداري ته ویلي، که امریکایي ځواکونه په افغانستان کې د یوه ګډ حکومت له رامنځته کېدو مخکې ووځي، ښایي طالبان په دوو- دریو کلونو کې افغانستان ونیسي.
نیویارک ټایمز ورځپاڼې دا خبر د یو شمېر چارواکو په وینا چې نومونه یې نه دي اخیستل شوي، خپور کړی دی. دغو چارواکو دا هم ویلي، که طالبان په زوره افغانستان ونیسي، القاعده شبکې ته به اجازه ورکړي چې بیا په افغانستان کې سره منظمه شي او دغه حالت بیا د امریکا او د دوی متحدینو ته جدي ګواښ رامنځته کولی شي.
په ورته مهال رویټرز اژانس لیکلي، چې سپینې ماڼۍ په دې اړه له تبصرې ډډه کړې ده. د نیویارک ټایمز په باور، یو شمېر امریکایي چاروکي تر دې راپور وروسته اوس د دې پلوي کوي، چې امریکایي ځواکونه د مې د لومړۍ نېټې تر ضرب الاجل ورهاخوا هم په افغانستان کې پاتې شي.
د یادونې ده چې د ۲۰۲۰میلادي کال د فبروري په ۲۹مه امریکایانو له طالبانو سره د سولې تړون وکړ او ژمنه یې وکړه، چې د مې تر لومړۍ نېټې به خپل ټول پوځیان له افغانستانه باسي.
بلخوا طالبانو بیا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د حضور احتمالي تمدید ته په غبرګون کې ویلي، چې که امریکا په ټاکلې نېټه خپل پوځیان ونه باسي، دوی به یې پر وړاندې وسله والې مبارزې ته دوام ورکړي.

### د سولې له ټینګښت پرته ښایي په هېواد کې کورنۍ جګړې پیل شي


۵ مخ

۲ 017550 139621

## پوهنتون
۴ مخ

### کاوون د لوړو زده کړو موسسه

کاوون د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو د وړتیا لوړولو په موخه، په جرمني او استانبول کې له یو یو پوهنتون سره د علمي اړیکو تفاهم لیکونه لري.




## خوږیانی: د ننګرهار لپاره څلور زره نوي ښوونکي منظور شوي



د ننګرهار چارواکي وايي چې د دغه ولایت لپاره د څلور زره نوي ښوونکي منظور شوي دي.
د ننګرهار د والي ویاند عطاالله خوږیانی وايي چې افغان ولسمشر غني د ننګرهار له ولسونو سره دغه ولایت ته په خپل وروستي سفر کې ژمنه کړې وه چې د نوي لمریز کال له پیل سره سم به څلور زره نوي ښوونکي منظور او په دندو وګومارل.
د ننګرهار لپاره څلور زره نوي ښوونکي داسې مهال منظور شوي، چې د دغه ولایت د پوهنې د مسوولانو په وینا، په ننګرهار کې ټولټال اووه زره ښوونکي کم دي، چې د هغو په منځ کې څلور زرو ته یې جدي اړتیا ده.
خوږیانی وايي، د څلور زره نویو ښوونکو له ګومارلو سره به په ننګرهار کې د ښوونکو د اړتیا ستونزه حل شي.
د یادونې ده چې اوسمهال په ننګرهار کې ۹۰۲ ښوونځي شته، چې پکې شاوخوا ۱۶ زره ښوونکي په تدریس بوخت دي.

## زلمی خلیلزاد، نمایندۀ ویژۀ امریکا دور تازه سفرهایش را به‌کشورهای منطقه آغاز کرده‌است



زلمی خلیلزاد، نمایندۀ ویژۀ امریکا برای صلح افغانستان دور تازه سفرهایش را به‌کشورهای منطقه آغاز کرده‌است.
خبرگزاری رویترز به‌نقل از وزارت خارجۀ امریکا نگاشته‌است که آقای خلیلزاد اکنون عازم ترکیه - محل برگزاری نشست صلح دربارۀ افغانستان - شده‌است.
وزارت خارجۀ امریکا گفته‌است که قرار است آقای خلیلزاد، در این دور از سفرش، طرف‌های دخیل در روند صلح افغانستان را برای رسیدن به یک توافق صلح تشویق کند. به‌گفتۀ وزارت خارجۀ امریکا این دور سفر منطقه‌یی آقای خلیل‌زاد، به روز پنج‌شنبه آغاز شده‌است.
قرار است در ماه آیندۀ میلادی، نشست بزرگی دربارۀ صلح افغانستان در استانبول برگزار شود. در این نشست، دربارۀ جنگ و صلح افغانستان تصمیم گرفته خواهد شد.
در عین حال شورای عالی مصالحۀ ملی، یک طرح ۳۷صفحه‌یی را برای نشست استانبول که قرار است در ماه آیندۀ میلادی برای صلح افغانستان برگزار شود، آماده می‌سازد. یک عضو رهبری شورای عالی مصالحۀ ملی می‌گوید که این شورا پس از به‌میان آوردن تعدیلاتی در بخش ایجاد شورای فقه، چه‌گونه‌گی تشکیل حکومت آینده، حقوق زنان و آتش‌بس در پیش‌نویس طرح صلح امریکا، طرح خودرا در نشست استانبول ارایه خواهد کرد.
فریده مهمند، عضو رهبری شورای عالی مصالحۀ ملی بیان داشت: «این طرح‌ها و پیشنهادها در روزهای نزدیک اضافه می‌شود و طرح ما برای نشست ترکیه آماده خواهد شد.»



Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریېمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د کورنۍ جګړې خطر رښتیا هم جدي دی؟

د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب وایي چې که له سولې مخکې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، نو په افغانستان کې به کورنۍ جګړې رامنځ ته شي. نوموړي پر طالبانو تور پورې کړی چې تاوتریخوالی یې زیات کړی او سوله نه غواړي. نوموړي دغه راز ویلي چې دوی د ترکیې غونډې ته پر چمتووالي بوخت دي. افغان حکومت په داسې وخت کې دا څرګندونې کوي، چې تازه د امریکا ولسمشر جوبایډن ویلي تر مې میاشتې له افغانستان د ځواکونو وتل سخت دي. تر دې وړاندې ویل شوي وو چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د بهرنیو ځواکونو د وتلو په برخه کې پر لنډ ځنډ بحث روان دی. داسې ویل کېږي چې ښایي دا پروسه درې میاشتې وځنډېږي. که څه هم طالبانو ویلي، چې دا کار د دوحې د هوکړې نقض دی، خو ویل کېږي چې که طالبانو ته د بندیانو د خلاصون، له تور لېسته د طالب مشرانو د نومونو ایستل او په ځینو نورو برخو کې امتیازات ورکړل شي، نو ښایي پر یو لنډ ځنډ هوکړه وکړي.
که طالبان دا ځنډ ومني، بیا هم امریکایي ځواکونه مجبور دي چې ووځي او دا هېڅکله د سولې پروسې د یو مخ لغوه کېدو مانا نه لري. له همدې امله حکومت او طالبان اړ دي چې یو له بل سره توافق وکړي. که بهرني ځواکونه ووځي او بین الافغاني توافق ونه شي، دا خبره جدي ده چې سخته کورنۍ جګړه به وشي. که څه هم موږ اوس په جګړه کې یو، خو تر دې به سخته، خونړۍ او پراخه جګړه وشي. دا حالت باید دواړه لوري درک کړي.
که طالبان فکر کوي چې بهرني ځواکونه به ووځي او دوی به په زور هر څه وکړي، تېروتنه کوي، ځکه چې له امریکا پرته ګڼ نور سیمه‌ییز هېوادونه هم شته چې د طالبانو پر ضد د جنګېدونکو کسانو سره به مرستې کوي. دا سمه ده چې طالبان به برلاسي وي، خو دا په دې مانا نه ده چې طالبان به خپل ټول مخالفین مات کړي. له بله اړخه که حکومت دا فکر کوي چې امریکایان به ونه وځي، تېروتنه کوي. امریکایي ځواکونه وځي، ښایي څو میاشتې ځنډ وکړي، خو بیا هم مجبور دي چې ووځي. حکومت به اوس پوره احساس کړې وي چې امریکا ورته یو مخ شا کړې او آن د امریکا ولسمشر په کابل کې د خپل سیال واکمن نوم هم نه دی زده او هغه ته کیاني وایي. له همدې امله پر امریکا حساب سم نه دی.
د جګړې دواړه اړخونه باید درک کړي چې دوی له بین الافغاني توافق پرته بله چاره نه لري. له بین الافغاني توافق پرته بله لاره یوه چټله کورنۍ جګړه ده چې ټول زیان یې افغان ولس ته رسېږي او هېڅوک به پکې بریالی نه شي. له همدې امله پکار ده چې دواړه اړخونه د خنډونو او ستونزو د جوړولو پر ځای ستونزې او خنډونه لرې کړي. دوی باید ټوله هڅه وکړي چې بین الافغاني توافق وشي او افغانستان ته سوله راشي. له دې پرته بهرني ځواکونه وځي او دواړه اړخونه هغسې جګړې ته روان دي چې هېڅ افغان یې نه غواړي.

# اوبه خوندي کړئ چې ژوند مو خوندي شي

محمد داوود



افغانستان د اوبو له کبله یو غني هېواد دی چې د اوبو کلنی جریان یې ۷۵ میلیارده مترمکعب ته رسېږي. ځېرنې ښیي چې په افغانستان کې نظر د اوبو نورو سرچینو ته له سیندونو او کانالونو ډېره ګټه پورته کېږي. د افغانستان ولاړې اوبه ډېرې په مرکزي او یا غرنیو سیمو او په غربي دښتو کې بهېږي. د افغانستان د اوبو سرچینې او اوبه اخیستونکي حوزې د هندوکش لړۍ او د هغه لوړې څوکې جوړوي، په تېره بیا هغه تلپاتې واورې چې د واخان، پامیر، ختیځ او لوېدیځ هندوکش او د بابا په غره باندې کلونه کلونه پرتې وي. په پسرلي او دوبي کې ویلې کېږي او په بېلابېلو حوزو کې بهېدونکې اوبه منځته راوړي.
همدا اوبه او سیندونه د پسرلي او دوبي په موسمونو کې دومره زیاتې او طوفاني کېږي، چې د کافي نباتاتو د نشتون له کبله د ځمکو د ویجاړۍ او ښوېېدنې لامل ګرځي، چې کرنیزې ځمکې هم له ځان سره خرابوي. په ټولیز ډول د افغانستان د سیندونو د اوبو بهېدنه تونده ده چې د اصلي سیندونو مرستیالان له لوړو څوکو څخه سرچینه اخلي او په کږو وږو لارو مخ په ځوړو رابهېږي او له بل پلوه د سیندونو تل په ټولیزه توګه کوچنی او تنګې بڼې لري، چې له همدې امله د ځمکو د تخریب سبب ګرځي. د هېواد له ټولو اوبو څخه یوازې ۳۰ سلنه د هېواد په داخل کې کارول کېږي، نورې اوبه زموږ ګاونډیو هېوادونو پاکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران ته بهېږي. په هیواد کې له سیندونو څخه د برېښنا د تولید، د کرنې د اړتیا، د باغونو او ځنګلونو د سمسورتیا او د حیواناتو د روزنې لپاره کار اخیستل کېږي. د تفریح ځایونو، چمنونو، زینتي ونو او ګلانو پراختیا لیدونکو (سیاحانو) توجه هم راجلبوي.
دا چې افغانستان له ایران پرته له خپلو نورو ګاونډیانو سره د اوبو د وېش پر سر تړونونه نه لري او هر وخت چې په هېواد کې د اوبو د مدیریت موضوع رامنځته کېږي، نو د ګاونډیو هېوادونو له لوري ګواښونه نور هم ډېرېږي او په افغانستان کې د روان جنګ یو سبب هم همدا اوبه دي؛ خو که چېرې افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د وېش تړونونه لاسلیک کړي، نو اوبه به د دغو هېوادونو تر منځ د کړکیچ لامل نه؛ بلکې د همکارۍ لامل شي. خو له بده مرغه اوسمهال زموږ ګاونډي هیوادونه په خپل سر دغو اوبو ته بندونه جوړوي او په خپله خوښه بې له دې چې افغان لورۍ وپوښتي، ګټه ترې پورته کوي. څرنګه چې د دوی ګټه پورته کونه په ځینو مواردو کې د اوبو له نړیوالو حقوقو سره سمون نه خوري، نو د دې لپاره چې نامشروع ګټې ته ادامه ورکړي او په راتلونکي کې دا ګټه لا زیاته کړي، نو په افغانستان کې د اوبو د پروژو په تخریب کې برخه اخلي. اوبه د هیواد په اقتصاد کې خورا مهمه ونډه لري. لکه څرنګه مو چې وړاندې یادونه وکړه افغانستان له ایران پرته له نورو ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو اړوند تړونونه نه لري؛ نو غواړم دلته یوازې د ایران په اړوند د اوبو مسایل له تاسې سره شریک کړم.
له ایران سره تر امیر دوست محمد خان وروسته د سیستان او د اوبو ستونزه د هلمند- هریرود سیند په هکله څو ځلې راپورته شوه؛ ځکه هلمند سیند چې د بابا له غره څخه پیلېږي، ټولټال د ۱۱۵۰ کیلومتره په اوږدوالي چې د ارغنداب سیند هم ورسره یوځای کېږي، تر سیستان جهیل پورې ځي او بیا راتاوېږي او د مارګو له دښتې څخه د نیمروز تاسوکي او ګوډ زره پورې ځي. حتی که اوبه طوفاني وي، تر بلوچستان پورې هم ځي او یوازې د ۲۷ کیلومتره په اوږدوالي له ایران سره شریکې کېږي. لومړی ځل په ۱۸۷۱ کال د انګریز یو افسر د «ګولډاسمید» په نوم چې سیستان یې زمونږ او فارس تر منځ تقسیم یا وویشه؛ د سیستان جهیل یې فارس ته ورکړ؛ مګر نهر جوړول یې منع کړل. دویم ځل په ۱۹۰۵ کال کې بیا د انګریز بل جنرال د «مکمهن» په نوم د لانجې د حل لپاره سیمې ته ولاړ؛ خو نوموړي داسې پرېکړه وکړه چې یوازې هغه اوبه چې سیستان سیمې ته ځي، هغه د هغه سیمې د لګښت لپاره دي. دا لانجه بیا د محمد ظاهرشاه په وخت کې راپورته شوه، ځکه مخکینی پرېکړې استعماري ښکیلاک یا پردیو کړې وې؛ خو داځل په قانوني او رسمي توګه په ۱۹۷۲ کال د مارچ په میاشت کې افغان استازي لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران استازي لومړي وزیر امیر عباس هویدا تر مینځ د اوبو د نړیوالو اصولو پر بنسټ یو تړون لاسلیک شو، چې د تړون په دویمه ماده کې داسې راغلي: ټولې هغه اوبه چې د هلمند له سیند څخه ایران ته ورکول کېږي، په نورمال او غیر نورمال کال کې په منځني ډول په یوه ثانیه کې ۲۲ متره مکعبه دي؛ خو افغانستان د ښه ګاونډیتوب له کبله څلور مترمکعب اضافه ورکوي، چې ټولې ۲۶ متره معکب کېږي.
په همدې ډول د یاد تړون پنځمه ماده وایي: افغانستان هوکړه کړې چې ایران هغه مقدار اوبه چې افغانستان ورکړې، د دې تړون د دریمې، دویمې او څلورمې مادې له مخې ایران ترې محروم نه کړي. افغانستان حق لري چې د ټولو حقوقو په نظر کې نیولو سره له پاتې اوبو څخه چې څنګه غواړي، هغسې ګټه پورته کړي او ایران له دې اوبو څخه پرته د نورو اوبو د اخیستلو حق نه لري او نه هم ادعا کولای شي. که پورتنی تړون ته وکتل شي، نو هرڅه پکې روښانه دي او اړتیا نه لیدل کېږي چې ایران یا افغانستان د هلمند سیند پر سر ستونزې را پیدا کړي؛ خو ایران د نړیوالو او د همدې تړون خلاف لومړی یو نهر بیا وروسته څلور نهرونه چې ۵۵ مترمکعب اوبه په هره ثانیه او اوس نهه نهره د تړون خلاف جوړ کړي دي، چې ۱۵۰ مترمکعب اوبه په هر ثانیه کې زېرمه کوي. بل دا هغه اوبه چې دوباره نیمروز ته راتللې، هغه یې هم بندې کړې دي؛ ځکه دا اوبه تر زاهدان او کرمان پورې هم رسېږي. پر واټرپمپونو سربېره، زمونږ اوبه په ډالرو پر کویټ، قطر او په دوبۍ هم پلوري او د کوهک په نوم یې د برېښنا بند هم جوړ کړی، چې همدا برېښنا زمونږ په نیمروز او هلمند ځینو سیمو هم پلورل کېږي. ایران د شوي تړون خلاف چې پکې درې سیمې د اوبو اخیستلو لپاره ټاکل شوې، له ۳۰ تر ۴۰ سیمو څخه اوبه اخلي. د یاد تړون د پنځمې مادې له مخې، ایران د هلمند سیند پر اوبو له هغې کچې پورته چې په تړون کې تثبیت شوې ده، د هېڅ ډول ادعا حق نه لري. د یاد تړون په هیڅ ماده کې افغان حکومت له ایران سره داسې تعهد نه لري، چې ګویا ایران دې د سیستان او بلوچستان او د زاهدان ښار د ځمکو خړوبولو لپاره د اړتیا وړ اوبه د هلمند له سیند څخه واخلي. خو له بده مرغه چې د راپورونو له مخې، همدا اوس هم د تړون خلاف زاهدان ته ۳۷ میلیون متر مکعبه اوبه د هلمند له سیند ورکول کېږي او هڅه کوي چې په افغانستان کې هغه بندونه چې د دې سیند پر سر جوړېږي، مخه یې ونیسي. ښه بېلګه یې د بخش اباد د بند جوړېدل دي او غواړي دا سیمې په یوه نه یو ډول سره نا امنې کړي. دا چې ایران ولې دا کار کوي، سبب یې دا دی چې ایران ځکه داسې کوي چې اټکل شوی ایران به تر ۲۰۲۵ کال پورې د اوبو له کمښت سره مخ شي.
ایران د خپلو ټولو اوبو ۹۲ سلنه په کرنه کې مصرفوي او له ټولو ځمکې لاندې اوبو څخه یې ۷۷ سلنه استفاده کړې ده. په همدې حال کې په ۱۳۹۳ کال واشنګټن پوسټ هم راپور ورکړ او وویل چې ایران د اوبو د کمښت له خطرناک حالت سره مخ دی. په ایران کې د اوبو د کمښت عوامل د نفوسو وده، ناګټوره کرنه، د اوبو د ښه مدیریت نشتون او نړیوال بندیزونه دي.
لکه څرنګه چې وړاندې مو یادونه وکړه افغانستان د خپل ښه ګاونډیتوب له کبله له تړون څخه څلور مترمکعب ډېرې اوبه ایران ته ورکړې او ایران د افغانستان د سوداګرۍ په برخه کې هم ډېر ملګری پاتې شوی، چې یوازې په تیرو کې له یوه میلیارد ډالرو څخه د ډېرې سوداګرۍ تر څنګ یې برېښنا هم وارد کړې او ایران چې د نړۍ له بندیزونو سره مخ دی، په چابهار کې هم افغانستان پانګونه کړې ده چې دا د افغانستان د ښه ګاونډیتوب ښکارندوی دي. د تړون له مخې، افغانستان کولای شي چې له خپلو ټولو اوبو څخه ګټه واخلي، نو افغانستان همدې اصل ته په پام، د سلما او کمال خان بندونه ورغول .
دا چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی او اقتصادي وده یې هم ډېره پر کرنې متمرکزه ده، نو د دې ډول بندونو جوړېدل د هېواد پر اقتصاد باندې مثبت اغېز لري. د کمال خان بند په رغیدو سره به موږ وکولای شو چې ۱۷۰ زره هکتاره ځمکه تر کښت لاندې راولو او هغه توکي چې موږ پخوا له بهر څخه راواردول، اوس به یې په خپل هېواد کې تولید کړو، چې د سوداګرۍ پر بېلانس به هم مثبت اغېز ولري او هغه اسعار چې موږ د توکو واردولو په موخه بازار ته لیلام کول؛ هغه به هم سپما کړو او زموږ اسعاري شتمنۍ به هم لوړې شي. نیمروز چې په اقتصادي لحاظ د هېواد له وروسته پاتې سیمو څخه ګڼل کېږي، نو په اقتصادي لحاظ به پرمختګ وکړي، چاپېریال به یې سم شي او د خلکو ژوند کچه به ورسره لوړه شي. پر ایران چې د برېښنا زموږ څومره برخه تکیه ده، هغه به راکمه شي، ځکه د دې په وسیله ۹ میګاواټه برېښنا هم تولیدېږي.
دا چې افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی او د نړیوالې سوداګرۍ لپاره اړ دی، څو د ګاونډیو هېوادونو له بندرونو او سړکونو ګټه واخلي؛ نو اوبه زموږ یوازینۍ د فشار هغه وسیله ده که ګاونډي هېوادونه زموږ د نړیوالې سوداګرۍ پر وړاندې ستونزې رامنځته کوي، د اوبو د کنټرول او مدیریت له لارې کولای شو چې موږ هم پر دوی فشار راوړو او ستونزه حل کړو.

# د افغاني تولیداتو پر وړاندې خنډونه او فرصتونه

فرهاد مندوزی

د هر هېواد د اقتصادي نظام پیاوړتیا او پرمختګ تر ډېره په کورنیو تولیداتو او بهرنیو هېوادونو ته په صادراتو ولاړه وي. هغه هېوادونه چې د داخلي توکو د صادراتو کچه یې له وارداتي توکو پورته وي، په طبیعي بڼه د یوه قوي او پیاوړي اقتصادي نظام په درلودولو سره پر ځان بسیا او پرمختللی هېواد ګڼل کېږي او اقتصادي وضعیت یې له هغو هېوادونو سره چې د کورنیو تولیداتو کچه یې ټیټه او له نورو هېوادونو پر وارداتي توکو خپلې اړتیاوې پوره کوي، ستر توپیر لري.
افغانستان چې شاوخوا څلور لسیزې یې په جګړو کې تېرې کړې، د سیاسي وضعیت ترینګلتیا تر څنګ د خورا بد او کمزوري اقتصادي حالت سره هم مخ شوی او لا هم لکه څه ډول چې اړتیا ده په خپلو پښو نه دی ولاړ، هغه کارخونې او فابریکې چې پخوا یې دلته فعالیت درلود، اوس تر ډېره غیر فعاله او پرچاو دي، د کارخونو او فابریکو خاوندان له تاوانونو سره مخ شول او ان تر دې دمه یې هم ځینې د کاروبار د بېرته پیل کولو توان نه لري.
د دې تر څنګ چې افغانستان پرله‌پسې کلونه د جګړې ډګر و او لا اوس هم د هېواد په ډېرو سیمو کې جګړه روانه ده، بیا هم ځینې ملي سوداګر او د کارخونو مالکان په هېواد کې پانګونې ته لېوالتیا لري او غواړي چې تولیدي فابریکې جوړې کړي، خلکو ته د کار زمینه برابره کړي او د هېواد په اقتصادي وده کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه برخه واخلي، چې له نېکه مرغه په تېره یوه لسیزه کې په لسګونو تولیدي فابریکو په کار پیل کړی او ډېرو ځوانانو ته یې د کاري زمینې د برابرولو تر څنګ، په لسګونه قلمه هغه وارداتي توکي یې په کور د ننه تولید کړل، چې پخوا به افغانانو له بهرنیو هېوادونو واردول.
خو له دې سره سره اصلي ستونزه بیا هم دا ده چې په هېواد کې د ننه افغاني توکو ته د بازار نشتون، په قاچاقي ډول له بهره د هغو توکو واردول چې افغانستان کې هم تولیدېدای شي، له خلکو سره د داخلي تولیداتو په اړه د عامه پوهاوي نشتون او همدا ډول د کورنیو او بهرنیو توکو د بیو په اړه د یوې منظمې ستراتیژۍ نشتون او د شتون په صورت کې نه پلي کیدل هغه لاملونه دي، چې په کور د ننه یې د افغاني توکو بازار خراب کړی او خلک د کورنیو تولیداتو پر ځای تر ډېره بهرنیو توکو ته ډېر لومړیتوب ورکوي. د بېلابېلو بحثونو او کارپوهانو د نظریاتو پر اساس، د افغاني تولیداتو پر وړاندې لسګونه خنډونه شته چې د بېلګې په توګه عمده ستونزې او ګواښونه یې په لاندې ډول په ګوته کولای شو:

**د بازار پیدا کول**

تر هر څه د مخه له پانګه‌والو سره د حکومت ملاتړ او د هغو توکو په وارداتو د بندیز لګول چې په کور دننه تولیدېږي یا لږترلږه پر وارداتي توکو د تعرفو پورته کول د دې سبب کېدای شي، چې داخلي تولیداتو ته څه نا څه بازار پیدا شي. هغه بهرني توکي چې په بازارونو کې په لوړه بیه پلورل کیږي، له خلکو سره یې اړتیا کمیږي او دې ته اړ کیږي چې کورني تولیدات په ټیټه بیه تر لاسه کړي.

**د بهرنیو توکو قاچاق**

هېواد ته له بهرنیو او په تېره بیا ګاونډیو هېوادونو په قاچاقي ډول د هغه توکو را واردېدل چې په کور دننه هم تولیدېږي، د کورنیو تولیداتو پر وړاندې یوه جدي ستونزه ده، ځکه چې د اقتصاد له نظره په بازارونو کې د توکو بیې د اړتیا او وړاندې کولو پالیسۍ (عرضې او تقاضا) له مخې ښکته پورته کیږي، نو د هغو توکو بیې چې په کور دننه تولید کیږي او خام توکي یې هم له بهرنیو هېوادونو څخه واردېږي، سل په سله را ټیټېږي. کیدای شي په خپل اصلي قیمت هم په بازار کې ونه پلورل شي، ځکه چې په همدې ځانګړتیاوو په بازارونو کې بهرني توکي په کمه بیه تر لاسه کیدای شي، چې همدا د کورنیو تولیداتو پر وړاندې یوه ستره ستونزه ده.

**له عام ولس سره د کورنیو تولیداتو په اړه د معلوماتو او انګیزې نشتون**

د هر څه د مخه دې ته اړتیا ده چې توکو ته د بازار پیدا کولو لپاره خلکو ته عامه ذهنیت ورکړل شي، د داخلي تولیداتو په اړه نندارتونونه جوړ شي او خلک هم باید د بهرنیو توکو په پرتله خپلو کورنیو تولیداتو ته لومړیتوب ورکړي، چې په دې سره د بهرنیو توکو بازار کمزوری کیږي او داخلي تولیداتو ته مناسب بازار پیدا کېدای شي.
نو د دې لپاره چې پیاوړی او په خپلو پښو ولاړ اقتصادي نظام ولرو، حکومت مکلف دی چې پورته یادو شویو ستونزو ته د حل لار پیدا کړي او ولس هم د بهرنیو تولیداتو پر ځای کورنیو تولیداتو ته لومړیتوب ورکړي، څو د بهرنیو تولیداتو له واردېدو څخه دا هېواد نور د تل لپاره خلاص او وکولای شو راتلونکو نسلونو ته یو پر ځان بسیا افغانستان په میراث پرېږدو.

# د ترکیې د کنفرانس په درشل کې؛

## د طالبانو او امریکا ترمنځ د سرتېرو پر حضور یا وتلو نانډرۍ راولاړې شوې



په افغانستان کې د سرتېرو د حضور او یا وتلو پر سر د امریکا او طالبانو ترمنځ نانډرۍ راپورته شوې دي. تازه د امریکا ولسمشر جو بایډن، امریکایي سناتورانو، د امریکا استخباراتي ادارو او ځینو امریکایي څېړونکو ویلي چې له افغانستان د بهرنیو ځواکونو د ایستلو لپاره شرایط نه دي مساعد شوي. بلخوا طالبانو بیا تازه خبرداری ورکړی چې که امریکایي ځواکونه پر ټاکلي نېټه له افغانستان و نه وځي، نو دوی به خپلې وسله والې مبارزې ته ادامه ورکړي. نیویارک ټایمز بیا وایي چې د سرتېرو د وتلو، مشارکتي حکومت او یا ورته موارډو په اړه د طالبانو ترمنځ د نظر اختلاف شته دی.
وروسته له هغه چې په دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، نو تر ټولو مهم موارد یې دا وو، چې امریکایي ځواکونه به تر مې میاشتې په بشپړه توګه له افغانستان وځي، طالبان به تاوتریخوالی کموي، له بهرنیو ترهګرو ډلو سره به اړیکې پرې کوي او بین الافغاني مذاکرات به یوې پایلې ته رسول کېږي، خو اوس چې په امریکا کې نوی حکومت رامنځ ته شوی او په ډېرو موارډو کې یې د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ تګلارې او فرمانونه لغوه کړي، نو امریکایي حکومت د دوحې له هوکړې هم ناخوښ دی. نوی حکومت د دې ملاتړی دی چې د سرتېرو د ایستلو پر مسئله لا ډېر فکر او غور ته اړتیا ده.
د امریکا ولسمشر جو بایډن په وروستیو ورځو کې وویل چې تر اوسه له افغانستان د سرتېرو ایستلو ته شرایط مساعد نه دي او په خبره یې دا به ګرانه وي چې تر مې میاشتې پورې دې بهرني عسکر له افغانستان و ایستل شي. د ده په خبره: «د تاکتیکونو له امله دا سخته ده چې سرتېري دې په ټاکل شوې نېټه له هغه ځایه را و ایستل شي. زه او د بهرنیو چارو وزیر له هغو هېوادونو سره ګورو چې په افغانستان کې یې سرتېري دي او که مناسبه مو وبلله، په منظمه توګه به له دغه هېواد خپل سرتېري وباسو».
د بایډن دې څرګندونو له ځان سره د طالبانو غبرګون درلود. وسله والو طالبانو رسنیو ته په یوه استولې اعلامیه کې ټینګار کړی، چې امریکایي او نور بهرني ځواکونه به په ټاکلې نېټه له افغانستان ووځي. وسله وال طالبان وایي، د دوحې د هوکړې مطابق امریکایي عسکر باید تر مې میاشتې له افغانستان ووځي او دلته دې د سولې پرمختګ ته زمینه برابره کړي، خو افغان حکومت هم بیا د بایډن له دریځ ملاتړ کړی دی. د افغان حکومت د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب په یوه خبري غونډه کې ویلي چې که امریکایي عسکر بې وخته او د شرایطو له مساعدېدو مخکې له افغانستان ووځي، دلته به کورنۍ جګړې پیل شي.
بلخوا امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوسټ بیا له ځینو طالب مشرانو او قوماندانانو سره خبرې کړې دي. دغه ورځپاڼه وایي، سره له دې چې طالبانو په ځینو موارډو کې خپل یووالی ثابت کړی او دا یې ښودلې چې د یوه فرمان تابع دي، خو د سولې او حکومت پر سر د دغه ډلې د قوماندانانو ترمنځ د نظر اختلاف شته دی. ورځپاڼه وایي، په طالبانو کې منځلاري قوماندانان د سولې له لارې د ستونزې د حل په لټه کې دي، خو داسې قوماندانان هم شته چې دوی نه غواړي مشارکتي حکومت جوړ شي، بلکې د یوه نوي اسلامي حکومت د جوړېدو په لټه کې دي. یوه طالب قوماندان د نامه نه ښودو په شرط واشنګټن پوسټ ته ویلي: «موږ یو مستقل حکومت جوړوو، موږ شل کاله د اسلامي حکومت د جوړېدو لپاره مبارزه کړې ده، که داسې نه کېږي، نو موږ باید خپلو جګړو ته ادامه ورکړو».
بلخوا د امریکا استخباراتي ادارو هم د بایډن حکومت ته خبرداری ورکړی، چې که امریکایي او نور بهرني ځواکونه له افغانستان وځي، نو په دغه هېواد کې به ترهګرې ډلې پیاوړې کېږي، طالبان به په دوو کلونو کې د افغانستان ډېره برخه نیسي او نړیوالې ترهګرې ډلې به دلته ریښې ځغلوي چې نړیوال امنیت ته به ګواښونه جوړ کړي.

# د لاریونونو او تاوتریخوالي دوام؛

## د میانمار د پوځ په لاسو کې ۹۰ کسان وژل شوي دي




په میانمار کې د لاریونونو او تاوتریخوالي په دوام د دغه هېواد پوځیانو په ډزو کې ۹۰ کسان وژل شوي دي. راپورونه او عیني شاهدان وایي، دا کسان ټول د امنیتي ځواکونو په ډزو کې وژل شوي، چې پکې یو کوچنی هم شامل دی.
د یادونې ده چې په میانمار کې دا لاریونونه د فبرورۍ له لومړۍ نېټې را وروسته د دغه هېواد په مرکز یانګون، ماندلای او ځینو نورو ښارونو کې پیل شوي دي.
په همدې حال کې د پوځ مشرانو د وسله وال ځواک ورځ هم نمانځلې ده.
د پوځ په ضد د یوې ډلې ویاند ډاکټر ساسا په یوې انلاین غونډې کې ویلي چې د وسله وال پوځ لپاره شرم دی چې د خپلو خلکو پر وړاندې یې د ټوپک خولې خلاصې کړې دي.
په میانمار کې د لاریونونو له پیل راهیسې دا لومړۍ ځل دی، چې په یوه ورځ دومره کسان وژل کېږي. په دغه هېواد کې د پوځ د کودتا ضد په روانو لاریونونو کې تر دې دمه تر ۴۰۰ زیات کسان وژل شوي، سلګونه نور ژوبل شوي او یو شمېر نیول شوي هم دي.
رویټرز خبري اژانس وایي، چې په وژل شویو کسانو یو پنځه کلن ماشوم هم شامل دی. په یاد کې یوه لاریونوال تای یا زاو وویل: « دوی (پوځ) موږ لکه چرګان او مرغۍ داسې وژني. دوی آن موږ په خپلو کورونو کې هم وژني. موږ یې کیسه کې نه یو، موږ به تر هغه وخت پورې لاریونونه کوو، چې جنتا (پوځ واکمن ګوند) چپه شي.»
د میانمار پوځ د همدې روان کال د فبرورۍ په میاشت کې کودتا وکړه او ولسي حکومت یې نسکور کړ، مشران یې ونیول او پوځي حکومت یې اعلان کړ. یاد هېواد د پوځ مشر وایي، چې تېر حکومت د درغلیو له لارې واک ته رسېدلی و.
د میانمار د پوځ د دغه اقدام په غبرګون کې امریکا او ځینو نورو هېوادونو د پوځ دا کودتا غندلې او د دغه هېواد په ځینو پوځ مشرانو یې بندیزونه هم لګولي او شتمنۍ یې کنګل کړې دي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې



دا ښایي د جراحي حملې په اړه زما نظر وي: اوس تاته دا مهمه ده چې یو څه وکړې، نو مظفر آباد او یا یوه بل همداسې ځای ته راشه. تاسو به وواياست چې موږ دا کار وکړ؛ موږ به ووايو چې ډېر ښه او یا به خپه شو، خو خپګان به مو بې مانا وي.
د همدې حملې په وخت کې زه په ډیلي کې وم، چې یوه ژورنالېست په ټلویزیون همدا نوم ورکړ. په ټلویزیون کې د پوځي عملیاتو عمومي رئیس وویل چې موږ جراحي حمله وکړه، او موږ نور څه نه غواړو. په ورته مهال، د پاکستانیانو غبرګونونه ډېر ساړه وو، داسې چې ته وا هېڅ نه دي شوي.
ما ځان سره فکر کاوه او په ټلویزیون مې هم وویل چې ډېره اغېزناکه جراحي حمله وه، ځکه ظاهراً موږ باید یو څه کړي وای، چې ومو کړل. د پوځي عملیاتو عمومي رئیس هم همدا وویل او د پاکستان غبرګون هم ډېر سوړ و.
مسئله همداسې نه وه لکه خلکو ته چې وښودل شوه، لکه څنګه چې جنرال صېب وايي، سیاسي واټن باید کم کړای شي. نو رسنیو ډېر انعکاس ورکړ. موږ له کانګرېس او د هند د ملي امنیت له پخواني سلاکار څخه زده کړل، چې داسې څه مخکې هم څو ځله شوي دي.
خبره دا ده چې داسې څه پر پولو پېښېږي. پنځه کاله مخکې له دوو هندي پوځیانو پر پوله سرونه پرې شوي وو ، ما چې لومړی وزیر منموهن سېنګ ولید ډېر غوسه و. ما ورته وویل، صېب داسې څه پر پوله پېښېږي. راته وې ویل، خو دا پېښه پر ټلویزیون هم وښودل شوه. دی د لومړي وزیر په توګه پر دې خپه و، چې نور به څه وشي.
دوراني: ښاغلی دولته، دا یوه ښه اړیکه ده. د پارلمان د ۲۰۰۱ کال او د ممبیي د ۲۰۰۸ کال د بریدونو په څېر به هند هر وخت هم غلی نه وي ناست. د هند غبرګون به دا وي، چې آیا هر وخت به د پاکستان پر وړاندې بې ځوابه پاتې کېږي او ځواب به نه ورکوو؟ نو زموږ دا دومره لوی پوځ د څه لپاره دی؟ د هند پوځ به په دې اړه فکر کوي، چې څنګه غبرګون وښيي او څنګه پر پاکستان یرغل وکړي.
دا کار خطرناک دی، نو دوی باید د یوه بل غبرګون په اړه فکر وکړي. په همداسې حالاتو کې کولډ سټارټ دوکتورین (Cold Start Doctrine) مناسب دی. دا کار ښه فکر کولو ته اړتیا لري، ځکه غبرګون په کې ټاکل کېږي. زموږ اړخ ته ځینې کسان دا استدلال کوي، چې د «هستوي ګواښ» په وخت کې داسې څه نه پېښېږي. هستوي ګواښ دوه یا درې ورځنی ډزې نشي بندولی. د کارګېل جګړه هم له هستوي ازمایښتونو وروسته پېښه شوه. خو Cold Start دا اجازه راکوي، چې موږ خپل تخنیک وکاروو؛ د بېلګې په توګه هستوي ملاتړ چې هم په ذهني توګه او هم په تخنیکي توګه موږ ته ډاډ راکوي. د هند او پاکستان په اړیکو کې تاکتیکي هستوي وسلې هم ستراتېژیکې پایلې لرلی شي. امرتسر او لاهور ستراتېژیک اهداف نه دي، دوی یو له بل څخه یوازې ۵۰ کیلومټره لرې دي. نور ډېر ځایونه دي.
نه. که همدا دوه هېوادونه هوښیار وي، د خبرو کانال به سره جوړ کړي: ښاغلی دولته، تاسو اسد دوراني ښه پېژنئ، راځئ چې پر دې وغږېږو چې څه ډول دا ستونزې اداره کړو. دواړه ښایي ووايو چې د هند د مجبوریت له کبله درې یا څلور داسې ځایونه شته، چې بمونه پرې وغورځول شي، یوازې ځان ډاډه کړه، چې هلته ډېر تخریب نه کېږي.
زه «کوریاګراف غبرګون» یا «کوریاګراف جراحي حمله» کلمه ورته کاروم. موږ پوهېږو چې هند هرومرو غبرګون ښيي.
زموږ سیاسي مجبوریت دا دی، چې موږ هم باید غبرګون وښیو. نو ستاسو د لسو بمونو لپاره موږ باید یو بم وکاروو. پرته له ډېر تخریبه موږ له همداسې ستونزمنو حالاتو ځان ایستلی شو. کله چې تاسو پاکستان ته سوله ییز ځواب ورکړئ، موږ هم داسې ځواب درکوو چې موږ پر ځمکه پراته شیان نه راپورته کوو.(په عین حال کې له همدې فارمول څخه لوېدیځ هم ګټه اخلي. په سوریه کې تشې پوځي اډې په نښه کوي، چې متحد ایالتونه او متحدین یې دا ادعا وکړي چې «دښمن مو په سزا ورساوه.»)
اوس نو دا هغه څه دي، چې شوي دي. زه خوښ یم چې ملګري مې نن د همدې اړیکو په اړه فکر کړی دی.چې آیا دا کارونه په همدې توګه شوي دي؟ زه نه پوهېږم او دا زما مسئولیت هم نه دی. که زه پوهېدای هم، په اړه به مې څه نه وای ویلي.
دا د کوریاګراف غبرګون ګټه ده. زه دا منم چې مودي، BJP او نور په داسې مقام کې دي، چې سوله کولی شي. له میا صېب سره د سولې په اړه دوی په ښه حالت کې وو، دوی ښه ملګری او ښه محیط درلود. خو سوله ونشوه. مودي او ډله به یې سوله ونه کړي. دوی به همداسې خپلې سرتمبګی ته ادامه ورکړي.

**دوام لري...**

# کاوون د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



کاوون د لوړو زده کړو موسسه چې په مزارشریف ښار کې موقعیت لري، د بنسټ ډبره یې په ۱۳۹۳ کال کې د دوو پر هېواد مینو افغانانو لخوا کېښودل شوې او د ۱۳۹۴ کال په ثور میاشت کې یې پر فعالیت پیل وکړ. د کاوون د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري معاون نثار احمد مبارز په وینا، کاوون د لوړو زده کړو موسسه له پیله تر اوسه درې پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم، اقتصاد او عالي قابلګي) لري. د ښاغلي مبارز په وینا، کاوون د لوړو زده کړو موسسه په شمال زون کې یوازینی هغه خصوصي پوهنتون دی، چې د عالي قابلګی پوهنځی یې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د لسانس په کچه فارغین ورکوي او دا د دوی لپاره د ویاړ ځای دی.
مبارز زیاتوي، کاوون د لوړو زده کړو موسسه په خپلو دریو پوهنځیو کې پنځه ډیپارټمنټونه لري. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې د قضا او څارنوالۍ او اداري او ډیپلوماسۍ، اقتصاد پوهنځی یې د اداري او تجارت او مالي- بانکي او عالي قابلګي پوهنځی یې یو عمومي ډیپارټمنټ لري چې درسي چارې یې د عالي قابلګۍ د یوه عمومي ډیپارټمنټ په چوکاټ کې پر مخ وړل کېږي او ښځینه محصلینې پکې پر زده کړو بوختې دي.
ښاغلی نثار احمد مبارز زیاتوي چې کاوون د لوړو زده کړو موسسې په پیل کې له ۸۰ تر ۱۰۰ پورې محصلین درلودل، چې د وخت په تېرېدو یې شمېر زیات شو او اوسمهال یاده موسسه له ۹۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ پورې فعال محصلین لري چې په دې ډله کې شاوخوا ۵۵ سلنه ښځینه محصلینې او پاتې ۴۵ سلنه نور یې هلکان جوړوي، چې د کاوون د لوړو زده کړو په موسسه کې پر لوړو زده کړو بوخت دي.
ښاغلي مبارز همدا راز وویل، دوی تر دې دمه په ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو کې له خپلو دریو پوهنځیو څخه په دوو دورو کې ۲۸۰ محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د کاوون د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول په خپلو خبرو کې وویل، دوی هر کال خپلو دریو پوهنځیو ته په مختلفه کچه نوي محصلین جذبوي چې که څه هم شمېره یې په دقیق ډول مالومه نه ده، خو کاوون د لوړو زده کړو موسسه په کلني ډول له ۲۵۰ څخه تر ۴۰۰ پورې نوي محصلین جذبوي.
د ښاغلي مبارز په خبره، کاوون د لوړو زده کړو موسسه خپلو محصلینو ته ځانګړی تخفیف وړاندې کوي. د نوموړي په وینا، دوی د موسسې لخوا د ټاکلي تخفیف سربېره، له ډېرو دولتي او غیر دولتي بنسټونو لکه د بلخ د ښځو چارو ریاست، د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست، د بلخ د ځوانانو امریت، څارنوالۍ، محکمو، امنیه قوماندانۍ، شاهین قول اردو او داسې نورو سره د دوه اړخیزې همکارۍ تفاهم لیکونه لري، چې پر اساس یې کاوون د لوړو زده کړو موسسې ته د کمزوري اقتصاد لرونکي محصلین او ځوانان ورپېژندل کېږي، څو په لږ لګښت سره وکولای شي چې خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړي او دوی یې هم په ځانګړي تخفیف سره د لوړو زده کړو لپاره جذبوي.
ښاغلي مبارز زیاته کړه، کاوون د لوړو زده کړو موسسه په دریو ټایمونو کې خپلې درسي چارې پر مخ بيایي، داسې چې عالي قابلګي پوهنځی یې د سهار او له غرمې وروسته دورو کې خپلې درسي چارې پر مخ بيايي او پاتې دوه پوهنځي یې په سهارنۍ او ماښامنۍ دورو کې درسي ټایمونه لري او محصلین یې په همدې دوو دورو کې خپلو زده کړو ته حاضرېږي.
ښاغلي مبارز وویل، لکه څرنګه چې کتابتون د یوه اکاډمیک مرکز او پوهنتون لپاره یو لازمي شرط دی، نو پر همدې اساس دوی د کاوون په لوړو زده کړو موسسه کې مجهز کتابتون لري، چې تر ۵۰۰۰ جلده پورې کتابونه لري. پر دې سربېره، د کاوون د لوړو زده کړو موسسې له نوښت سره سم دوی د خپلو محصلینو لپاره انلاین کتابتون هم لري، چې تر ۳۵ زره جلده پورې برېښنايي کتابونه پکې دي او محصلین کولای شي خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.
د کاوون د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري معاون په خبره، دوی په مزارشریف ښار کې له ډېرو علمي او اکاډمیکو مرکزونو سره نېکې او علمي اړیکې لري. پر دې سربېره، له هېواده د باندې د جرمني له وېتن پوهنتون سره د خپلو علمي کدرونو د ظرفیت د ارتقاع په برخه کې تفاهم لیکونه لري او همدارنګه د استانبول ښار له پوهنتون سره یې خبرې اترې رواني دي، چې په نږدې راتلونکې کې به د علمي اړیکو د ټینګښت په برخه کې تفاهم لیک لاسلیک کړي.
ښاغلي مبارز زیاته کړه، دا چې فارغو محصلینو ته د ډیپلوم توضیح او ورکړه د لوړو زده کړو وزارت د کاري لړۍ د ځنډ په موخه یو څه وخت نیسي، نو کاوون د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه د خپلو دواړو دورو فارغو محصلینو ته په انګلیسي او دري ژبو ترانسکرېپټونه او سرټېفیکټونه ورکړي دي، څو له حقوقو او امتیازاتو یې ګټه واخلي.
ښاغلي نثار احمد مبارز زیاته کړه، کاوون د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د علمي سويې د لوړاوي په موخه ډېر امکانات لکه له ځینو بهرنیو علمي او اکاډمیکو مرکزونو سره د قراردادونو او تفاهم لیکونو درلودل چې پر بنسټ یې د کاوون له لوړو زده کړو موسسې سره مالي مرستې کوي، حقوقي کلینیکونه یا د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لپاره د عملي زده کړو پروګرامونه جوړول او همدارنګه د قابلګۍ څانګې لپاره د عملي زده کړو امکانات برابروي او محصلینو ته یې لازمې لارښوونې ورکوي او د اقتصاد پوهنځي په برخه کې هم د محصلینو لپاره ځینې د ارزښت وړ کمپیوټري پروګرامونه لکه ICP او داسې نور هم لري، چې د پوهنځي او درسونو اړوند زده کړې پکې پر مخ بيايي.
ښاغلي مبارز همدا راز زیاته کړه، طبیعي ده چې هر علمي بنسټ او اداره د یوې ټاکلې موخې او پلان پر اساس مخ پر وړاندې ځي، کاوون د لوړو زده کړو موسسه هم د لا بډاینې او پرمختګ په موخه ځینې پلانونه لري، چې له هغې ډلې د ظرفیت لوړونې پروګرامونو ته اشاره کولای شو. نوموړي زیاته کړه، له نېکه مرغه چې څو ورځې وړاندې د کاوون د لوړو زده کړو موسسې اداري هیئت او تقنیني کمېټې خپل راتلونکی پنځه کلن ستراتېژیک پلان جوړ کړ، چې په ترڅ کې به یې ځینو لویو پروګرامونو لکه له ګاونډیو هېوادونو سره متقابلو اړیکو ټینګولو، د قابلګۍ د برخې لپاره د یوه پرمختللي او مجهز کدري روغتون جوړولو، د کتابتون او لابراتوار د پرمختګ لپاره د منظمو پلانونو درلودلو او د لا ډېرو اسانتیاوو رامنځته کولو ته پوره پاملرنه وشي.
د کاوون د لوړو زده کړو موسسې د مالي او اداري چارو امر نثار احمد مبارز په خپلو خبرو کې وویل، دوی له دولت او په ځانګړې توګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو په برخه کې دې د خپلو پروګرامونو لا ښه والي ته پام وکړي، د بهرنیو هېوادونو په تحصیلي بورسیو کې دې انډول په پام کې ونیسي او په ټوله کې دې خصوصي سکټور ته لا ډېره پاملرنه او مالي ملاتړ یې دې وکړي، څو د هېواد د علمي برخې او اکاډمیکو مرکزونو کیفیت لا لوړ شي او افغان وګړي وکولای شي چې په هېواد کې لا ډېرې پانګونې ته زړه ښه کړي او علمي او اکاډمیک مرکزونه پر خپلو پښو ودرېږي.

## همیانی

# د مرادونو کاروان

**ولي الله ملکزی**

د یو فیلسوف وینا ده (د هیلو په سمندر کې غوپه کېدل، د نا امیدۍ په ساحل کې له پاتې کېدو څخه ډېر غوره دي)، ځکه چې هیله د ژوند کولو او نورو ته د ژوند ښنلو، ښکلی هنر دی. هیله د هرې هڅې اساسي بنسټ او د هر باور د زیږون سرچینه ده. په زړه کې د مراد لرل، په خپل مخ باندې د موسکا شال غوړوي او د مقابل لوري د ډاډ لامل گرځي. د رسول علیه السلام صحیح حدیث دی چې: «د الله په ذات ښه گمان کول او له هغه څخه هیله لرل، ښه عبادت دی)، ناهیلو خلکو ته پکار ده چې لږترلږه د هغه لمرگلي په اندازه همت ولري چې د باران په ورځ هم هغې خوا ته گوري چیرته چې لمر په وریځو کې پټ وي، مگر بیا یې هم د امید سترگې اسمان ته بوټې نیولې او هیله مند وي.

په ژوند کې د ښو امیدونو ساتل؛ لکه په تورو تیارو کې له ځان سره د څراغ گرځولو په څېر دي. هیله، نه خیال پلو دی او نه په ویښه د خوب لیدلو په مانا ده. موږ د سلیمان (ع) په زمانه کې نه اوسو چې دیوان او پیریان به د بلقیس تخت په اوږه او د سترگو په رپ کې له عدن څخه فلسطین ته را ورسوي. له همدې امله زموږ هیلې باید د عقلانیت او امکان د چوکاټ دننه و اوسي. هیله د رڼا بځرکی او یو تخنوونکی احساس دی چې د ستونزو او گواښونو پر وړاندې د صبر او مقاومت مورچل تود ساتي. هیله انسان له تړرمۍ، لټۍ او پښېمانۍ څخه را باسي او د عزم، دبدبې او د برې شاخص ورته په گوته کوي. هیله د غم په شپېو کې تر ټولو ښه درمل، د بې کسۍ غوره علاج او د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه یو نعمت دی.

اروا پوهان پر دې باور دي چې مایوسي د هیڅ درد، درمل نه دی؛ بلکې نا امیدي درد لازیاتوي، تیپونه نور ژوروي او اندېښنو ته لاره هواره وي. د دوی په اند، د یوازیتوب او سوچونو د وهلو په مهال، پکار ده چې د ژوند په مثبتو اړخونو فکر وشي او له هغه چا مشوره واخیستل شي چې سر یې له پوهې او زړه یې له مینې ډک وي. د سترو او تاریخي شخصیتونو ژوند دې مطالعه کړي چې هغوی هم زموږ په څېر انسانان وو، څرنگه دې مقام ته ورسېدل؟ همدا فکر د هیلې دروازې پرانیزي او په زړه کې د باور تخم کري. د هیلې په هکله د قرانکریم یو مبارک آیت دی. ژباړه: «اې پیغمبره! زما هغو بنده گانو ته ووایه چې پر خپلو ځانونو یې تیرې کړې دي، د الله له رحمت څخه مه مایوسه کیږئ.»

په ورځني ژوند کې پر هر چا اعتبار کول او له هر چا څخه هیله لرل، هوښیارتیا نه ده. که یو دوست په ناپوهۍ کې ستا سره جفا وکړي، نو ویې ښه! خو که دویم ځل دې بیا دوکه کړي، نو په هغه پورې زړه تړل او له هغه یا هغې څخه د نیکې هیلې تمه لرل؛ حماقت او ناپوهي ده. هیڅکله باید ټول امیدونه په یو تن پورې ونه تړل شي، څو تالا ترغی نه شي. لیوالتیا او هیله د هغې غوټۍ په شان ده چې تل یې د گل کیدو تمه کیدای شي، خو باید په پام کې ولرو چې د وحشت او بې انصافۍ سیلۍ یې رژولی هم شي.

کله چې د حضرت یعقوب مشرانو زامنو د هغوی ناسکه کشر ورور، حضرت یوسف په کوهي کې واچولو او بیا یې په مصریانو وپلورولو، نو پلار ته یې دروغ وویل چې هغه خو لیوه وخوړ، نو دغه سپین ږیری او په سترگو ړوند پیغمبر ناهیلی او لاس تر زنې نه شو؛ بلکې زامنو ته یې داسې وویل: ژباړه: «یوسف او د هغه ورور ولټوئ او د الله له مهربانۍ څخه مه نا امیده کیږئ»، هر څه ته په مثبت ډول کتل، د انسان په ذهن او زړه کې د امید ستنې مزبوتوي. هغه کس چې د زړه له تل څخه د خپلې موخې او هیلې په لور گامونه اخلي، له یوه ځانگړي احساس او شعور څخه خوند اخلي. بالمقابل، کوم خلک چې خپله نېکمرغي د نورو په بدمرغۍ کې لټوي او د نورو له خوښۍ ځوریږي، همدوی تر ټولو بدمرغه او ذلیل انسانان دي.

نلسن منډیلا وایي: «زړه سواندي انسانان خو له پخوا راهیسې یو له بل سره د شفقت په کلکو رسیو تړل شوي دي، خومره به ښه وي که د بشري ټولنې بې عاطفې خلک د ښو هیلو په مزي سره وتړل شي، څو د غمونو او ستونزو بار سپک شي.» هیله مند انسان تل فکر کوي چې گیلاس نیم ډک دی، خو ناهیلی کس همدغه گیلاس نیم تش بولي. که یو سړی مال وبایلي، نو یوه برخه به یې بیا هم پاتې وي، خو که هیله له لاسه ورکړي، نو بیا یې هر څه په سیند لاهو شول. هغه څوک چې په زړه کې ایمان او هیله نه لري، په حقیقت کې هغه د نړۍ تر ټولو مفلس او بې وزله انسان دی. نن په دنیا کې د مترقي ژوند اساس په نیکو هیلو ولاړ دی، د جهان پرمختللي هیوادونه د ترقۍ لوړو مدارجو ته د مثبتو هیلو او هڅو په نتیجه کې رسیدلي دي.

هغه ولسونه چې خلک یې ناهیلي او مایوسه وي، تل به خوار او زار، وروسته پاتې او نورو ته د درویزې لاسونه اوږده کړي وي. وینسټن چرچل وایي: «ناهیلی انسان هر فرصت ته د ستونزې له زاویې گوري، خو هیله مند انسان هره ستونزه یو نوی فرصت گڼي.»

په تیرو څلورو لسیزو کې زموږ هیواد څلور ځلې اشغال شو، دوه کرته سترو ځواکونو او دوه وارې د بدنیته گاونډیانو لخوا. همدارنگه موږ په دې موده کې څلور غیر متجانسه نظامونه وازمایل چې یو تک سور، بل پوخ شین، دریم پړکیدلی سپین او دا څلورم یې د جمهوریت معجون. له پیړیو راهیسې همدا باتې وهو چې موږ ننگیالي یو، توریالي یو او ټوپک زما قانون دی. خو فکر کوم چې دا یوه کلیشه یې او سولیدلی شعار دی. نو که موږ رښتیا هم غواړو چې متور او شمله ور شو؛ که غواړو چې خبره مو میره، په گیډه ماړه او د سیالانو سیال شو او که غواړو چې د مرادونو کاروان مو منزل ته ورسي! نو راځئ چې د وینې پر ځای مینې، د تعویذ پر ځای تحقیق او د ټوپک پر ځای قلم ته لاس کړو. کنه نو هندو سترۍ، خدای ناراضه.

## خپلواک: د شاه او عروس او شورابک بندونو د جوړېدو چارې ۹۹ سلنه بشپړې شوې



له کمال خان بند وروسته د شاه او عروس او شورابک بندونو د کار د بشپړېدو چارې نږدې شوې دي. د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره وایي، د دغو بندونو د جوړېدو چارې ۹۹ سلنه بشپړې شوې دي.

د دې ادارې ویاند نظام الدین خپلواک وایي، افغانان اوس د خپلو اوبو د مهارولو توان لري. د هغه په خبره: «د کمال خان بند چې د افغانستان یو له سترو لاسته راوړنو څخه دی، گټې اخیستنې ته وسپارل شو، له دې وروسته د شورابک او شاه او عروس بندونه دي، چې د جوړېدو چارې یې ۹۹ سلنه پای ته رسېدلي او ډېر ژر به گټې اخېستنې ته وسپارل شي.»

د خپلواک په وینا، شورابک بند د جرمنیانو له خوا د شاوخوا ۴۵ میلیونه یورو او د شاه او عروس بند د هندیانو له خوا د ۵۳ میلیونو ډالرو په ارزښت جوړ شوي دي . نوموړی وایي، تمه ده چې روان کال د ۴۴ نویو بندونو د جوړېدو چارې هم پیل شي.

د خپلواک په خبره، د دغو بندونو تړونونه به هم په نږدې راتلونکي کې لاسلیک شي.

د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د معلوماتو له مخې اوسمهال په هلمند کې کجکی، په فراه کې بخش اباد، په فاریاب کې دهنه دره، په هرات کې پاشدان، په غزني کې سلطان، په ارزگان کې شفلوغ، په کندز کې دویم خان اباد، په کابل کې شاه و عروس، په بدخشان کې شورابک، په زابل کې توری او په پکتیکا کې پلتو هغه بندونه دي، د رغولو چارې یې روانې دي.

له یادې ادارې په خپاره شویو راپورونو کې د دې ټولو بندونو تر څنگ په کابل کې د شاه توت للندر بند د جوړېدو قرارداد لاسلیک شوی او چارې یې هم په پیلېدو دي.

دا په داسې حال کې ده، چې تېره اونۍ کمال خان بند پرانیستل شو. د اوبو د چار د تنظیم ملي ادارې د معلوماتو له مخې، کمال خان بند ۱۷۴ زره هکتاره ځمکه خړوبوي او همدا شان د نهه مېگا واټه برېښنا تولید توان هم لري.

د دې ادارې د معلوماتو له مخې، د کمال خان بند رغنیزې چارې په لومړي ځل په ۱۳۴۵ لمریز کال کې د افغانستان د پخواني ولسمشر محمد داوود خان د واکمنۍ پرمهال پیل شوې وې، خو بیا وروسته یې کارونه بېرته ودرول شول.

## محب: د سولې له ټینگښت پرته ښایي په هېواد کې کورنۍ جگړې پیل شي



د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وایي، که د سولې له ټینگېدو پرته بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، دغه هېواد به په کورنیو جگړو کې ښکېل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د نیویاک ټایمز ورځپاڼې د راپور له مخې، د امریکا د استخباراتي ادارې ځینو چارواکو ویلي، که امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، طالبان به په زور واک ترلاسه کړي.

خو د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب یادو څرگندونو ته په ځواب کې ویلي، چې د سولې له ټینگېدو پرته په دغه هېواد کې د کورنۍ جگړې پېښېدو اندېښنې شته.

هغه زیاته کړه: «که چېرې نړیوال ځواکونه وځي او موږ سولې ته ونه رسیږو، د دې خطر شته چې موږ کورنۍ جگړې ته وگرځو. که چېرې طالبان دې تمې ته ناست وي چې که خدای مه کړه دلته جنجال جوړېږي او واک ته رسیږي، اشتباه کوي. هېڅوک د طالبانو د راتگ غوښتونکي نه دي.»

خو نوموړي وویل چې دفاع او کورنیو چارو وزاتونو د ورته وضعیت د مخنیوي لپاره چمتووالی پیل کړی دی. د محب په خبره: «که زموږ په سیستم کې کمزورتیا وي، د هغه تشو پر ډکولو موږ کار کړی دی.»

د دفاع وزارت سرپرست جنرال محمد یاسین ضیا هم یاد خبري کنفرانس ته وویل چې افغان ځواکونه له هېواد څخه دفاع ته چمتو دي.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د راپور له مخې، د امریکا استخباراتي ادارې د جو بایډن ادارې ته ویلي، که امریکایي ځواکونه د ښکېلو اړخونو ترمنځ د واک تر شریکولو وروسته له افغانستان څخه ووځي طالبان به د جگړې له لارې د یاد هېواد پر زیاتو سیمو کنټرول ټینگ کړي چې په وینا یې، په دې سره به القاعده شبکې ته هم په دغه هېواد کې د فعالیت زمینه برابره شي.

ټاکل شوې امریکایي ځواکونه د امریکا او طالبانو د دوحې د توافق په اساس تر راتلونکې مې میاشتې له افغانستان څخه ووځي، خو د بایډن په مشرۍ د امریکا نوې حکومت ویلي چې اوسمهال د امریکا او طالبانو د دوحې هوکړه ارزوي.

تر دې مخکې د امریکا د نوي حکومت مشر جو بایډن ویلي، چې تر مې میاشتې به له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو ایستل ستونزمن وي، خو طالبانو بیا پر ټاکلي وخت له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو پر ایستلو ټینگار کړی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۱,۱ |
| Rp. | ۴۹۱ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۲ |

### بېړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

يکشنبه د ۱٤۰۰ د وري اتمه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۸مه | ٦۹۹يمه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲٤ | ۲۳ | ۲۰ | ۲۷ | ۱۸ |
| ۸ | ۵ | ۸ | ۸ | ۱۷ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۳ | لمر ختل ۰۵:٤۷ | ماسپښين ۱۲:۰۰ | مازيګر ۰٤:۲۹ | ماښام ۰۶:۱۰ | ماخوستن ۰۷:۳۲

## نړۍ



د لاریونونو او ناوړیخوالي دوام؛

## د میانمار د پوځ په ډزو کې ۹۰ کسان وژل شوي دي

۳

## سناتوران: بایډن دې له ایران سره شوي تړون ته نه ور ګرځي



یو شمېر امریکایي سناتورانو د امریکا ولسمشر ته په یوه لیک کې له هغه غوښتي، چې له ایران سره د ۲۰۱۵ میلادي کال اټومي موافقې ته بېرته ور ونه ګرځي.
دوی ولسمشر بایډن ته ویلي، چې د دې پر ځای له ایران سره د یوې نوې موافقې هڅه وکړي، چې نور موضوعات هم پکې را ونغښتل شي.
دا لیک چې ۴۳ سناتورانو لاسلیک کړی، د دواړو ګوندونو؛ ډیموکرات او جمهوریپال غړي پکې شامل دي. دوی لیکلي، پر نورو مسایلو تکتیکي اختلافاتو ته له پام پرته په دې د نظر یووالی لري، چې ایران باید پرې نه ښودل شي، چې اټومي وسلې ترلاسه کړي.
دغو سناتورانو دا هم لیکلي، د ایران له لوري د هغو تروریستي ډلو ملاتړ، چې د امریکا دښمني دي، بالستیک توغندي او د سیاسي بندیانو مسئله هم باید له ایران سره په خبرو کې مطرح شي.
د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د دوی اشاره هغو دوه تابعیت لرونکو ایراني – امریکایي بندیانو ته ده، چې په ایران کې بندیان دي. دا لیک اصلاً ډیموکرات سناتور رابرټ منندیز او جمهوریپال سناتور لیندسي ګراهام وړاندیز کړی او د ۴۱ نورو سناتورانو ملاتړ یې هم خپل کړی دی. د لیک اکثره لاسلیکوونکي هغه سناتوران دي، چې په ۲۰۱۵ میلادي کال یې هم له ایران سره د نړۍ د سترو قدرتونو له اټومي تړون سره مخالفت کړی وو.

راپورونه:

## په مصر کې د ترافیکي پېښې د مرګ ژوبلې شمېر ۸۸ کسانو ته ورسېد

د مصر چارواکي وايي، چې د دغه هېواد په جنوب کې د دوو رېل ګاډو په ټکر کې لږ تر لږه ۲۲ تنه مړه شوي او ٦٦ نور ژوبل دي. راپورونه وايي، دا پېښه وروسته له هغې وشوه، چې سکندريې ښار ته د يوه روان رېل ګاډي اضطراري بريک فعال شو او د ناڅاپي دريدو له کبله بل رېل ګاډی چې ورپسې و، ورسره ټکر شو.
په ورته مهال د دغه هېواد روغتيا وزارت وايي چې لسګونه ټپيان د پېښې ځای ته په نږدې روغتون کې بستر شوي دي. بلخوا د مصر ولسمشر عبدالفتاح السيسي ويلي، چې د دې پېښې عاملان بايد ځواب ووايي.
نوموړي پر خپله فېسبوک پاڼه کې ليکلي، دا پېښه سبب شوه چې د دې ډول پېښو د مخنيوي لپاره د مصر حکومت خپله اراده تر پخوا لا کلکه کړي. د يادونې ده چې د په مصر کې دا ډول پېښې تر دې وړاندې هم شوې دي.
خو د دغه هېواد د رېل ګاډو د ټکرونو په تاريخ کې تر ټولو خونړۍ پېښه په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې وشوه، چې پکې له قاهرې د هېواد جنوب ته په روان رېل ګاډي کې تر ۳ سوه ډېره سپرلي ووژل شوه.


## منیب: بدون اصلاحات برگزاری انتخابات افغانستان را با چالش‌های جدی روبه‌رو می کند



پس از نشر گزارش‌هایی دربارۀ طرح پیشنهادی حکومت موقت از سوی زلمی خلیل‌زاد، نمایندۀ ویژۀ وزارت خارجۀ آمریکا برای صلح افغانستان، محمداشرف غنی، رئیس‌جمهور در مراسم گشایش سال سوم کاری ولسی جرگه گفت که انتقال قدرت از مجرای انتخابات برای او یک اصل غیرقابل معامله است. پس از این اظهارات، خبرگزاری رویترز با نشر گزارشی مدعی شد که رئیس‌جمهور غنی طرح پیشنهادی آقای خلیل‌زاد را رد کرده است و روی طرح برگزاری انتخابات زودهنگام کار می کند.
در همین حال، مولوی عبدالحکیم منیب، رهبر حزب حرکت انقلاب اسلامی افغانستان در یک نشست خبری در کابل با انتقاد از این طرح رئیس‌جمهور می گوید که برگزاری انتخابات بدون آوردن اصلاحات در نظام انتخاباتی، افغانستان را با چالش‌های تازه و جدی روبه‌رو می کند.
عبدالحکیم منیب می گوید: «بدون تغییرات اساسی و اصلاحات جدی به طرف انتخابات رفتن و این پیشنهاد و این‌گونه طرح‌ها کشور را با یک چالش جدی روبه‌رو می کند که مهار آن مشکل خواهد بود.»
رهبر حزب حرکت انقلاب اسلامی می‌افزاید که نبود بودجۀ کافی برای برگزاری انتخابات زودهنگام، بی‌باوری مردم و سیاست‌گران به نظام انتخاباتی کشور و قناعت‌نداشتن رقیبان سیاسی رئیس‌جمهور غنی به برگزاری انتخابات، از چالش‌های بزرگ فراراه انتخابات می‌باشد. به گفتۀ او، تأمین صلح در افغانستان هنوز هم به خواب بدون تعبیر می‌ماند و نیاز است که طالبان برای رسیدن به صلح از جنگ دست بکشند و پای میز گفت‌وگو حاضر شوند.

## ژوند


## دغه طبيعي جوس مو د زړه له ناروغيو ژغوري



رومي بانجان؛ روغتيايي نړۍ کې د بې شمېره روغتيايي ګټو او ګټورو موادو لرلو له امله قوي خواړه بلل کېږي. خو اوس په جاپان کې يوې تر سره شوې څېړنې ثابته کړې، چې د رومي بانجانو بې مالګې جوس د کولېسټرول او وينې لوړ فشار کچه ټيټوي او په دې ډول د زړه د ناروغيو خطر هم کموي. دې څېړنه کې د جاپان ۵۰۰ اوسېدونکو چې ۲۹۷ يې مېرمنې او ۱۸۴ يې نارينه وو، ګډون کړی و. څېړونکي وايي چې د رومي بانجانو بې مالګې جوس کارولو څخه وروسته د ګډون کوونکو د کولېسټرول او وينې لوړ فشار کچه کې د پام وړ کمی ليدل شوی. څېړونکي وايي چې د دغه جوس اغېز مختلف عمر لرونکو نارينه او مېرمنو کې ورته و.
د دې څېړنې په اړه يو څېړونکي وويل: «زموږ له پوهې سره سم، دا لومړنۍ څېړنه ده چې د زړه پر ناروغيو د رومي بانجانو اغېز څېړي. موږ د دې څېړنې په موخه د يو کال لپاره د ۵۰۰ ګډون کوونکو د کولېسټرول او وينې لوړ فشار کچه وڅېړل.»

## د سامسُنګ پياوړې بېټرۍ لرونکی ځيرک موبايل

سامسُنګ د اېم لړۍ منځنۍ وړتيا او پياوړې بېټرۍ لرونکی ځيرک موبايل، چې ګلکسي اېم۱۲ نومول شوی دی، خپلو مينه‌والو ته معرفي کړ. دغه ځيرک موبايل کې د سامسُنګ کمپنۍ اګزينوس۸۵۰ ډوله پروسېسر کارول شوی دی. ګلکسي اېم۱۲ کې ٦,۵ انچه اېچ ډي پلس ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې، چې له ۹۰ هرتز ريفرش ريټ څخه د ملاتړ وړتيا هم لري. دغه موبايل کې ٦۰۰۰ ملي امپيره وړتيا لرونکې ستره بېټرۍ ورکړل شوې، چې له ۱۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. ګلکسي اېم۱۲ به ٦/۴ ګيګابايټ رم او ۱۲۸/٦۴ ګيګابايټ د فايل ثبتوني وړتيا لرونکې بڼې ولري. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله



اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوايډ اېنګل، ۵ مېګاپکسله ډېپت سېنسر او ۲ مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. مخکينۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله وړتيا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د ۴ ګيګابايټ رم او ٦۴ ګيګابايټ فايل ثبتوني وړتيا لرونکې بڼې بيه ۱۵۰ امريکايي ډالره او د ٦ ګيګابايټ رم او ۱۲۸ ګيګابايټ د فايل ثبتوني وړتيا لرونکې بڼې بيه يې بيا ۱۸۵ امريکايي ډالره ټاکل شوې ده.

عزيزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT



د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب
عزيزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپيژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې تی ام او ماستر ډيټ کارتونوکې د تخفيف له فيس سره په افغانيو او ډالرو کې پرانيزي. یاد حساب د ساتنديه او لنډ پيغام فيس پرته پرانيستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټيټ اړتياوړ ييلانس سره يعني 500 افغانيو او50 ډالرو سره پرانيستل کيږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.
www.azizibank.af
1515